# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۱۰ زمری ۱۴۰۲ هـ ش | ۱۵ محرم الحرام ۱٤٤٥ هـ ق | ۱ اګست ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۳۹)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات هرات ولايت ته سفر وکړ

د سه شنبې په ورځ (د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرام مياشتې په ۹مه) د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب هرات ولايت ته د سفر پر مهال د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رياست څخه ليدنه وکړه.

محترم قاضي القضات صاحب د هرات مرافعه محکمې ته له رسېدو وروسته لومړۍ د دې محکمې د غونډو په تالارکې د هرات ولايت اړوند محاکمو له مسؤولينو سره ناسته وکړه، ناسته د استيناف محکمې د تجارتي دېوان د رئيس محترم مفتي دين محمد (هروي) لخوا د قرآنکريم د مبارکو اياتونو په تلاوت پيل شوه، ورپسې د استيناف محکمې عمومي رئيس محترم مولوي عبدالله (قادري) هرات ولايت ته د سترې محکمې د رئيس محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب له سفر د منندې او ښه راغلاست ترڅنګ محترم قاضي القضات صاحب ته د هرات د محاکمو اړوند قضائي او اداري کارکوونکو د صادقانه خدمت په اړه بشپړ معلومات ورکړل.

دغه راز د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په دې ناسته کې چې د هرات ولايت د استيناف محکمې د دېوانونو، ابتدائيه محاکمو ټولو قضائي او اداري منسوبينو په کې ګډون درلود وويل، دا چې قضاء يو لوی مسؤوليت دی نو له ټولو قضائي منسوبينو هيله لرم چې د الله تعالی د رضا لپاره په ښه ډول د دغه لوی مسؤوليت د اداء کولو په برخه کې هڅې وکړي، په رسمي وخت سربېره هم د قضائي چارو د ترسره کولو لپاره کار وکړي.

محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب د ابتدائيه محاکمو قضائي کارکوونکو ته هدايت وکړ چې د فيصلو صادرولو او ورځنيو چارو پر مهال ډېر دقت وکړي، د افغانستان اسلامي امارت د اصولو مطابق د جزائي او مدني قضاياوو په تړاو فيصلې صادرې کړي ترڅو له صادرېدو وروسته نقض نه شي، په دې سره به محاکمو کې د کار تراکم کم شي.

دغه راز د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات زياته کړه، د محاکمو قضائي منسوبين مؤظف دي چې هره اونۍ له زندانونو ليدنه وکړي او د زندانيانو له وضعيت څخه ځان خبر کړي.

د ناستې په دوام د هرات ولايت د محاکمو اړوند قضائي او اداري کارکوونکو ته د محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب تر مهمو او ضروري هداياتو وروسته د هرات ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې د رئيس محترم مولوي خدای رحم (خدام) د دې محکمې د اړتياوو اړوند خبرې وکړې.

ناسته د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب لخوا د دعا په ويلو پای ته ورسېده.




## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۶۳**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲۸ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۲۴هـ ق چې د ۱٤٠٢ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د يوويشتمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې دوه يمه موضوع داسې وه: ((د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق کې هدايت شوی وو چې: په حقوقي موضوعاتو کې چې مربوطه محکمې ته د مدعي د عريضې وړاندې کولو په وخت، مدعی عليه په کومه ساحه کې سکونت درلودی د همهغه ساحې محکمه د موضوع د حل او فصل صلاحيت لري، د مدعي تر عريضې وروسته د مدعی عليه بل ځای سکونت اختيارول اعتبار نه لري او د محکمې د موضوع د حل او فصل پر صلاحيت باندې کوم اثر نه لري.)

اوس پوښتنه دا ده: په ياد صورت کې د استيناف مرحله يې په هغه ولايت کې طی شي چې په کوم ولايت کې د ابتدائيه محکمې فيصله شوې ده او که د هغه ولايت په استيناف محکمه کې د موضوع په اړه اصولي اجراآت ترسره شي چې مدعی عليه د ابتدائيه محکمې تر فيصلې وروسته هلته سکونت اختيار کړی دی؟))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۴۶)مورخ۱۴۴۴/۱۲/۲۴هـ ق مصادف۱۴۰۲/۴/۲۱هـ ش د دوه يمې پريکړې په اساس په لاندې ډول هدايت وکړ: ((په حقوقي موضوعاتو کې چې مربوطه محکمې ته د مدعي د عريضې وړاندې کولو په وخت مدعی عليه په کومه ساحه کې سکونت درلودی د همهغه ساحې محکمه د موضوع د حل او فصل صلاحيت لري، د مدعي تر عريضې وروسته د مدعی عليه بل ځای سکونت اختيارول اعتبار نه لري او د محکمې د موضوع د حل او فصل پر صلاحيت باندې کوم اثر نه لري. همدارنګه د استيناف مرحله دې په هغه ولايت کې طی شي په کوم ولايت کې چې د ابتدائيه محکمې فيصله شوې ده.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت ترسره شي.

### ليرو پرتو سيمو ته د قاضيانو او واليانو لېږل (لومړۍ برخه)

کله چې د اسلامي دولت د واک سيمه پراخه شوه، دا اړين کار وګڼل شو چې بېلا بېلو ليرو سيمو ته بايد واليان ولېږل شي، تر څو د ولايت د نورو چارو د سمبالښت سره د قضاء چارې هم په صحيح توګه ترسره کړي، نو رسول الله صليالله عليه وسلم له لوري علي رضی الله عنه يمن ته ولېږل شو او دا يې ورته وويل:»دوی (يمن اوسېدونکو) ته شرعي احکام ور وښايه او د دوی ترمنځ پرېکړې کوه«.

علي رضی الله عنه وويل: ماته خو د قضاء اړوند هېڅ علم نشته؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سينې ووهلم او وويل: اې الله! ده ته د قضاء چارې وروښايه.

او علي رضی الله عنه ته يې د قضاء طريقه ور وښوول، لکه څرنګه چې د ابو داؤد په هغه روايت کې چې حنش له علي رضی الله عنه څخه روايت کړی دی، علي رضی الله عنه وايي: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم زه يمن ته د قاضي په توګه لېږلم، نو ما ورته وويل: ايد الله رسوله! ته ما د قاضي په توګه لېږې، په داسې حال کې چې زه نوی ځوان يم او د قضاء په اړه راته هېڅ علم نشته؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: الله تعالی به ستا زړه پر حقې او مستقيمې لارې برابر او ستا ژبه به ثابته کړي، نو کله چې ستا مخته دوه دعوه کوونکي کېښېناستل تر هغو د دوی تر منځ پرېکړه مه کوه، تر څو چې دې د هغه بل کس خبره هم داسې نه وي اورېدلې، لکه څنګه چې دې د لومړي کس خبرې واورېدې، دا تاته د قضاوت په روښانۍ کې ډېره مناسبه تګلاره ده.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۲ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## محکمهٔ استیناف تخار طی ماه ذوالحجه علاوه بر حل و فصل (۳۷۸) جلد دوسیه، به تعداد (۱۷۳) قطعه وثایق را نیز اجرأ نموده‌است

گزارش اجراآت برج ذوالحجهٔ ۱٤٤٤هـ ق دیوان های ابتدائیه و استیناف، آمریت ثبت اسناد و وثایق و محاکم ولسوالی های ولایت تخار بشرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

طی ماه ذوالحجه سال ۱٤٤٤هـ ق به تعداد(۲۷۷) جلد قضایای حقوقی مورد رسیدگی قرارگرفته است که از آن جمله به تعداد (۹۳) دوسیه توسط فیصله شرعی بررسی و حل فصل شده است، به تعـــداد (۱٦۱) قضیه به وسیله قرارقضائی مورد رسیدگی قرار گرفته، به تعداد (۲۳) جلد دوسیه ذریعهٔ مکاتیب رسمی به مراجع مربوطه راجع گردیده و متباقی دوسیه هاکه از قبل نیز وجود داشته تحت رسیدگی شرعی قرار دارد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه‌گذشته به تعداد (۱۰۱) قضایای جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است که از آن جمله به تعداد (٥٦) قضیه توسط فیصله شرعی حل گردیده، به تعداد (۳۳) قضیه توسط قرار قضائی مورد رسیدگی قرار گرفته، به تعداد (۱۲) جلد دوسیهٔ جزائی ذریعه مکاتیب رسمی بمراجع مربوطه محول گردیده و متباقی دوسیه های که از قبل نیز وجود داشته تحت اجراآت و بررسی شرعی قرار دارد.

**در بخش وثایق:**

طی یک ماه‌گذشته به تعداد (۱۷۳) وثایق مختلف النوع نظر به ضرورت و تقاضای مراجعین بعد از طی مراحل شرعی و اصولی اجرأ شده است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۲۹۴) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۶۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپور کې له ۱۴۴۴/۱۲/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۱۲/۱۹ هـ ق نېټې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۲۰) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوي دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۹۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۰ ) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۲۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۷۵)جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوي دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱۸) دوسیه مکتوبي مستردې شوې، د (۲۵) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۲۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۱۶۳) بېلا بېل وثایق هم اجرا شوې دي.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۱۴۲) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۵۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپور کې ۱۴۴۴/۱۲/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۱۲/۲۹ هـ ق نېټې د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۲۴) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوي دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۷۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي،(۳۴) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۹)جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوي دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱) دوسیه مکتوبي مسترده شوې، د (۹) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۱۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۱۵۱) بېلا بېل وثایق هم اجرا شوې دي.

## طی دو هفته در محاکم ولایت جوزجان علاوه بر حل و فصل (۱۹۵) دوسیه، (۲۱۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است

راپور اجراآت ریاست عمومی محکمه مرافعه ولایت جوزجان شامل دواوین استینافی، محکمه ابتدائیه شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیه ولسوالی های ده‌گانه از تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۶ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۲/۲۹ هـ ق در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۴) دوسیه وارد محاکم آن ولایت گردیده در حالیکه به تعداد (۸۰) دوسیه از قبل نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعاً به تعداد (۱۴۴) دوسیه می شود. که از آن جمله (۴۱) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مسترد مکتوبی، در مورد (۳۴) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و به تعداد (۶۲) دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیه وارد محاکم آن ولایت گردیده در حالیکه به تعداد (۶۵۵) دوسیه از قبل نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعاً به تعداد (۶۷۰) دوسیه می شود. که از آن جمله (۹) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مسترد مکتوبی، در مورد (۹۷) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و به تعداد (۶۴۷) دوسیه تحت کار می باشد.

همچنان به تعداد (۲۱۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز طی این مدت اجراء گردیده است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت غور علاوه برحل و فصل (۱۰۷) قضیه حقوقی و جزائی (۱۹۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است

راپور دوسیه جات و وثایق ریاست محکمه مرافعه ولایت غور شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری، محکمه نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۸ هـ ق الی ۱۴۴۵/۱/۵ هـ ق بشرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۵) دوسیه حقوقی وارد محاکم آن ولایت گردیده، در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشته. که از آن جمله (۳۷) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۱۹) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده؛ که در مجموع به تعداد (۶۰) دوسیه اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کارمیباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۳) دوسیه جزائی وارد محاکم آن ولایت گردیده، در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشته. که از آن جمله (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۱۸) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده؛ که در مجموع به تعداد (۴۷) دوسیه اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کارمیباشد.

همچنان طی این مدت به تعداد (۱۹۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د کابل ښار د اسنادو او وثایقو شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې (۲۳۹۵) بېلا بېلې وثیقې اجرأ کړې دي

له ۱۴۴۴/۱۲/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۱۲/۲۹ هـ ق نېټې د کابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت د شپږو آمریتونو د اجراآتو راپور په لاندې شکل دی:

**۱) د لومړۍ حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د لومړۍ حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د یوې میاشتې په جریان کې (۲۳۳) جلد نکاح خطونه او (۶۶) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأ کړې دي.

**۲) د دویمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د دویمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د یوې میاشتې په جریان کې (۳۱۵) جلد نکاح خطونه او (۷۹) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأ کړې دي.

**۳) د درېیمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د درېیمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د یوې میاشتې په جریان کې (۳۲۴) جلد نکاح خطونه او (۴۷) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأ کړې دي.

**٤) د څلورمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د څلورمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د یوې میاشتې په جریان کې (۴۰۰) جلد نکاح خطونه او (۶۶) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأ کړې دي.

**٥) د پنځمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د پنځمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د یوې میاشتې په جریان کې (۲۶۳)جلد نکاح خطونه او (۵۵) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأ کړې دي.

**٦) د شپږمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د شپږمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د یوې میاشتې په جریان کې (۴۹۹) جلد نکاح خطونه او (۴۸) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأ کړې دي.

## محاکم ولایت لغمان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل ۵۳ دوسیه، به تعداد ۱۰۰ وثایق مختلف النوع را نیز اجراء نموده است

راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت لغمان شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۵ الی ۱۴۴۴/۱۲/۲۹ هـ ق به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشته. که از آن جمله (۱۸) دوسیه فیصلهٔ شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۴) دوسیه با قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کارمی‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۳) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشته. که از آن جمله (۷) دوسیه فیصلهٔ شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۱۲) دوسیه با قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد .

همچنان طی این مدت به تعداد (۱۰۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

اوس مې ستاسو راډیو فېسبوک پاڼه مخې ته راغله، په دې کې یو جمله کې سپانسر شوې هم دې لړ تصحیح او اډیټ ته اړتیا لري. «راځئ د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې په پاڼه کې د چین، افغانستان او نړۍ تازه خبرونه او په زړه پورې معلومات وګورئ.»

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان علاوه بر حل و فصل (۹۵) دوسیه حقوقی و جزائی، به تعداد (۸٦) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء شده است.

راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمه مرافعه ولایت پروان شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۱ الی ۱۴۴۴/۱۲/۴ هـ ق مطابق ۱٤۰۲/۳/۲۰ هـ ش به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦٥۷) دوسیه حقوقی وارد محاکم آن ولایت گردیده در حالیکه از قبل نیز چندین

پاتي برخه ص۳

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان...

دوسیه تحت دوران قرار داشته. که از آن جمله به تعداد (۱۵) دوسیه فیصله شده، (٦) دوسیه طی مکتوب مسترد، در مورد (٤١) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و باقی دوسیه ها تحت کار است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۶) دوسیه جزائی وارد محاکم آن ولایت گردیده در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشته. که از آن جمله به تعداد (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه طی مکتوب مسترد، در مورد (۸) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و باقی دوسیه ها تحت کار است.

همچنان طی این مدت به تعداد (۸٦) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت بغلان علاوه بر حل و فصل (۲۱۰) دوسیه، (۹۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردید است

راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمه مرافعه ولایت بغلان شامل اجراآت دواوین محکمه مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها ازتاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱ الی ۱۴۴۴/۱۲/۱۵ بشرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۷) دوسیه وارد محاکم آن ولایت گردیده در حال که از قبل (۱۴۶۲) دوسیه نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعه (۱۵۹۹) دوسیه میشود. از آن جمله به تعداد (۲۶) دوسیه فیصله شده، به تعداد (۱۶) دوسیه مسترد مکتوبی، در مورد (۱۲۲) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و (۱۴۳۸) دوسیه تحت کارمی باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۴) دوسیه وارد محاکم آن ولایت گردیده در حال که از قبل (۲۶۰) دوسیه نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعه (۳۱۲) دوسیه میشود. از آن جمله به تعداد (۱۱) دوسیه فیصله شده، به تعداد (۶) دوسیه مسترد مکتوبی، در مورد (۲۹) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و (۲۴۰) دوسیه تحت کار می باشد.

همچنان طی این مدت به تعداد (۹۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت فاریاب با رئیس استخبارات آن ولایت و هیئت همرای شان دیدار و ملاقات نمود

یوم یکشنبه مؤرخ۲۹/ ذوالقعدة الحرام/ ١٤٤٤ هـ ق مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت فاریاب با مولوی نعمت الله «نورانی» رئیس استخبارات فاریاب و هیئت همرای شان در دفتر کاری اش پیرامون موضوعات مرتبط دیدار و ملاقات نمود.

نخست دیدار با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز شد سپس رئیس استخبارات ضمن تبریکی و خوش آمدید به رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه افزود، الحمد لله فتح و پیروزی امارت اسلامی باعث ایجاد و سهولت های بیشتر برای مردم رنجدیده گردیده و در تمام نقاط و قراء و قصبات این ولایت امنیت سرتاسری وجود داشته و مجاهدین امارت اسلامی فاریاب شب و روز تلاش می نمایند تا بخاطر بهبودی نظم و امنیت سرتاسری برای باشندگان این ولایت فراهم گردد. همچنین رئیس استخبارات از همکاری و هماهنگی ادارات محلی و نظامی با محاکم اطمینان داد.

بعداً رئیس محکمه مرافعه تشریف آوری ولسوال دولت آباد ولایت فاریاب را به محکمه مرافعه خیر مقدم عرض نموده طی صحبتی گفت که بخاطر رسیده گی بهتر در تطبیق احکام شریعت اسلامی و قوانین نافذه امارت اسلامی افغانستان با ادارات، بالاخص با محاکم همکاری بیشتر داشته و بخاطر روشن ساختن اذهان عامه تلاش نمایند و بخاطر تطبیق و اجرای احکام محاکم همکاری ادارات ملکی و نظامی باید وجود داشته باشد و دیدار با دعائیه خیر و فلاح ملت خاتمه یافت

## دکندهار د استیناف محکمې د عمومي رئیس په مشرۍ د دیوانونو د رئیسانو سره غونډه ترسره شوه

سه شنبه ۱۴۴۵/۱/۸ هـ ق نېټه دکندهار د مرافعه محکمې د غونډو په تالارکې د یاد ولایت د مرافعه محکمې د عمومي رئیس مولوي عبدالغفار بحر په مشرۍ د دیوانونو د رئیسانو غونډه وشوه، یاده غونډه په داسې حال کې ترسره شوه چې د دیوانونو رئیسانو، د ثبت اسناد او وثایقو آمر، او د تحریراتو رئیس هم ګډون درلود.

غونډه د معمول سره سم د قرآن کریم په تلاوت پیل شوه، وروسته په یو لړ قضائي موضوعاتو بحث او د شرعي اصولو مطابق خبرې وشوه، چې په اړه یې لازم تصمیمونه ونیول شول.

د غونډې په پای کې (۲۰)دُرې چې له مخکې څخه جوړې شوې وې، محاکمو ته یې د توزیع هدایت وشو، ترڅو محاکم د تعزیر بالضرب فیصلو د تطبیق په موخه یادې دُورې د شریعت د اصولو مطابق وکاروي.

غونډه ددعا په ویلو پای ته ورسیده.

## جلسهٔ اداری محکمه استیناف ولایت دایکندی دایر گردید

جلسهٔ اداری محکمه استیناف ولایت دایکندی یوم سه شنبه مورخ ۱/۱/ ۱۴۴۵ هـ ق تحت ریاست شیخ الحدیث مولوی عبدالکریم «محمدی» رئیس عمومی محکمه مرافعه با اشتراک قضات، کارمندان اداری محاکم مرافعه و ابتدائیه شهری در مقر صالون جلسات ریاست عمومی محکمه مرافعه دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط مولوی عبدالغنی «مقدس» عضو مفتی دیوان مدنی محکمه ابتدائیه شهری آغاز شد سپس رئیس جلسه به موضوعات ذیل اشاره و تاکید نمود:

۱ ــ تمام کارمندان مکلف است کتابهای وارده و صادره خویش را تبدیل نموده و کتابهای سال ۱۴۴۴ خویش را به یک جای محفوظ نگهداری نموده وکتاب های وارده و صادره خویش را از تاریخ ۱/۱/۱۴۴۵ هـ ق تجدید نمایند.

۲ ــ به ارتباط حاضری بحث همه جانبه صورت گرفت بنابر تاکیداتی مقامات عالی و قوانین نافذه کشور تمام منسوبین مکلف است از غیر حاضری جداً اجتناب نمایند و هچنان برای تمام قضات و کارمندان اداری هدایت داده شد که هر کارمند که به رخصتی می روند باید تکت رخصتی داشته باشند، متحدالمال نمبر(۲۷۰) مورخ ۱۴۴۴/۱۰/۱۴ هـ ق که از طرف ریاست محترم منابع بشری مقام عالی ستره محکمه مواصلت ورزیده و در آن اوقات کاری محاکم مشخص گردیده است برای تمام منسوبین هدایت داده شد، که مطابق مکتوب نمبر فوق امورات اداری و قضائی خویش را تنظیم نمایند.

۳ــ در زمینه ترتیب و ارسال راپور ها و مکاتیب بحث همه جانبه صورت گرفت و برای مامورین ثبت قضایای جزائی و حقوقی محکمه مرافعه هدایت داده شد که راپور هفته وار اجراآت قضایای حقوقی، جزائی و وثایق دواوین محکمه مرافعه، دواوین محکمه ابتدائیه شهری ومحاکم ابتدائیه ولسوالی های مربوطه را به وقت معین آن جمع آوری نموده بعد از توحید نمودن محول آمریت تحریرات نمایند، تا به مرجع متقاضی ارسال شود.

۴ ــ به تمام منسوبین هدایت داده شد، که در امورات کاری صداقت، اخلاص، برد باری، صمیمیت، اخوت و برخورد نیک را با اصحاب دعاوی در صدر کاری خویش قرار دهند.

۵ــ برای تمام منسوبین قضائی و اداری هدایت داده شد تا هر شخص مطابق لایحه وظایف، وظایف خویش را انجام دهند، از اینکه وظیفه و ماموریت یک امانت است باید این امانت به خوبی حفاظت و در بخش کاری بسیار صادق باشیم، دقت و سرعت عمل را به کار اندازیم، شفافیت کاری را در اولویت قرار دهیم و تعهد مان را در قبال وظیفه اداء نمائیم، هیچ شخص حق ندارد به کار شخص دیگر مداخله نماید.

۶ــ به تمام منسوبین هدایت داده شد که در اوقات رسمی هیچ کسی حق ندارد بدون هماهنگی مسئول شعبه از شعبه بیرون شود.

۷ــ تمام منسوبین محاکم مکلف است در قسمت در خواست اجرای توزیع مثنی وثایق متحدالمآل نمبر(۱) مورخ ۱۴۴۴/۱/۹ هـ ق ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه را در نظر گرفته اجراآت خویش را مطابق آن عیار سازند.

همچنان روی بعضی از موارد دیگری بحث صورت گرفت و از طرف مقام ریاست جهت بهبود و رفع مشکلات موجود هدایت و رهنمائی های لازم صورت گرفت و جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## د لوګر د مرافعه محکمې رئیس د دغه ولایت د دولتي ځمکو له غصب د مخنیوي کمېسیون له غړو سره ناسته تر سره کړه

یکشنبه ۱۴۴۵/۱/۶ هـ ق د لوګر ولایت د مرافعه محکمې رئیس مولوي موسی کلیم «عاصم» د لوګر ولایت په مرافعه محکمې کې د دولتي ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون له اعضاوو سره وکتل.

یاد مجلس چې د لوګر ولایت د مرافعه محکمې په انګړ کې دائر شوی وو، د لوګر ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په شمول، د لوګر ولایت د عدلیې، زراعت، مستوفیت، استخباراتو، ښار جوړونې، حج او اوقافو، قضاء امارت، تعقیب او نظارت ریاست او یو شمېر نورو رئیسانو او مسئولینو ګډون کړی وو.

غونډه د کلام الله په سپېڅلو ایاتونو پیل شوه، ورپسې د لوګر ولایت د مرافعه محکمې رئیس د غونډې ګډونوالو ته د دولتي ملکیتونو د حفاظت او ساتنې په اړه هر اړخیزه او جامع وینا وکړه.

نوموړي وویل: دولتي املاک د ټول ملت مشترک مال او حق دی، ساتنه او حفاظت یې زموږ ټولو مسئولیت او وجیبه ده، هر هغه څوک چې دولتي ملکیتونه یې غصب کړي او یا یې اراده لري، ژر تر ژره به د عدالت منګولو ته وسپارل شي او کوم ملکیتونه چې دوی غصب کړي، له تثبیت وروسته به له دوی څخه واخیستل شي او بیت المال ته به تسلیم شي.

نوموړي همدا راز له دولتي ځمکو د غصب د مخنیوي د کمېسیون اعضاوو ته د محکمې له لوري د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ او له دوی څخه یې وغوښتل چې خپل کار دي په پوره صداقت او زړورتیا تر سره کړي او د دولت د مال او ملکیت خوړونکو سره دې هیڅ راز نرم چلند او ترحم نه کوي.

د مرافعه محکمې رئیس وویل: د هر غاصب او ظالم په ماتولو او له دوی سره د حساب او کتاب کولو لپاره د محاکمو منسوبین په قاطع دریځ او هوډ تیار او اماده دي.

د لوګر د مرافعه محکمې د رئیس له وینا وروسته، د کمېسیون اعضاوو په نوبت سره خبرې وکړې، دوی د مرافعه محکمې له رئیس سره خپل پلانونه او طرحې شریکې کړې او تر څنګ یې د کمېسیون پر وړاندې د شته ستونزو د حل په موخه د محکمې همکاري لازمه او اړینه وګڼله.

د مجلس په پای کې د کمېسیون د غړو له منځه درې (۳) تنه، د محکمې او زراعت د مربوط دوسیو د تفکیک او جلاوالي په موخه وټاکل شول، چې یاد هیئت به ددې دوسیو له تفکیک وروسته خپل راپور له کمېسیون سره شریکوي، چې د حل په موخه به یې لازم او ګړندي اجراآت تر سره کېږي.

د یادې غونډې اختتام د خیر او عافیت په دعاء سره وشوه.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د پکتیکا د مرافعه محکمې د رئیس او یاد ولایت د علماوو شورا او امر بالمعروف رئیسانو او د قضایاوو د آمر تر منځ غونډه وشوه

سه شنبه ۱۴۴۵/۱/۲ هـ ق د پکتیکا ولایت د مرافعه محکمې رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد» او د یاد ولایت د علماوو شورا او امر بالمعروف ریاستونو د رئیسانو او د امارت د قضایاوو د آمر ترمنځ د ځینو اړینو موضوعاتو په اړه غونډه دائره شوه.

یاده غونډه چې د پکتیکا ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالارکې د رئیس الحاج مفتي عبیدالله«خالد» په مشرۍ جوړه شوې وه، پکښې د یاد ولایت د علماوو شورا او امر بالمعروف رئیسانو او د امارت د قضایاوو آمر ګډون کړی وو.

غونډه د پکتیکا ولایت د محاکمو عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد» په هر اړخیزه او عالمانه وینا سره پیل شوه، نوموړي په خپلو خبروکې وویل، چې د خلکو د حقوقو د ضائع کېدو د مخنیوي او شته ستونزو ته په وخت سره د رسېدو په خاطر دا ډول منځني جلسې ضروري وبللې، ترڅو شته ستونزو او مشکلاتو ته پکښې د حل لاره پیدا شي او په وخت سره رسیدګي ورته وشي.

خالد صاحب د امارت د قضایاوو له آمر سره د امارتي ځمکو په اړه هم خبرې وکړې، ترڅو خدای مه کړه چې یادې ځمکې د اشخاصو لخوا حیف او میل نشي.

د علماوو شورا او د امر بالمعروف رئیسانو په عموم کې د ولایت په سطحه د شته ستونزو د لمنځه وړلو او عامو خلکو د بې ځایه تکلیف او د هغوی ستونزو او مشکلاتو ته په وخت سره د رسیدګي په هکله هر اړخیزې خبرې وکړې او دا ډول اداري جلسې یې ضروري وبللې، ترڅو پکښې ستونزو ته حل لاره ولټول شي.

## د هلمند د مرافعه محکمې عمومي رئیس د خانشین ولسوالۍ ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

سه شنبه او چهارشنبه ۱۴۴۵/۱/۷ هـ ق او ۱۴۴۵ /۱/۸ هـ ق نېټو د هلمند ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس مولوي محمد نبي حماس صاحب په مشرۍ یو مل پلاوي د خانشین ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته سفر وکړ. حماس مولوي صاحب ولسوالۍ ته له رسېدو سره سم د یادې محکمې له محبس څخه لیدنه وکړه، چې د بندیانو د وضعیت او د هغوی د فیصلو پوښتنه یې وکړه. وروسته یې د یادې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په انګړ کې د خانشین ولسوالۍ له ولسوال، امنیه قوماندان او د استخباراتو له مدیر سره ګډ تفاهمي مجلس وکړ، چې د یادې ولسوالۍ د شته مشکلاتو په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې، چې د یو او بل له لوري د همکارۍ ډاډ ورکړل شو. په پای کې یې د محبس مسؤل سره یو اندازه مالي مرسته وکړه، ترڅو د محبس د بندیانو ښه ساتنه پرې وکړي.

## د بلخ د مرافعه محکمې د مسؤولینو تر منځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۹مه نېټه د بلخ ولایت د محاکمو د رئیس صاحبانو ترمنځ د رسمي چارو اوکارونو د لا بهبود او تنظیم په موخه اداري ناسته ترسره شوه.

په دې غونـــډه کې چې د استیناف محکمې عمومي رئیس محترم مولوي محمـــدګلاب «فاروقي» په مشرۍ جوړه شوې وه، د دې محکمې د دیوانونو رئیس صاحبانو، د ښاري محکمې رئیس د مخزن او وثایقو آمر، د تحریراتو رئیس او د مرافعه محکمې د حقوقو استازي ګډون درلود. غونډه دامنیت عامه د دیوان د رئیس محترم مولوي عبدالسلام (مظهري) لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د استیناف محکمې عمومي رئیس محترم « فاروقي» هر اړخیزه ویناو وکړه وویل،قضاء د اسلامي نظام یو مهم ارکان دی؛ نولازمه ده چې حیثیت ته یې پام وشي ترڅو پر قضائیه قوې دعامو خلکو باور ته زیان ونه رسېږي.

دغه راز په یاده ناسته کې په یو شمېر مهمو موضوعاتو لکه د ځمکو اندازه، د قبالې نمبر تصحیح کول، د قرار وړاندې د مخزن څخه معلومات، د تاریخ تېرو درملو سوځول، د غیرقانع وکړو مرافعه غوښتل، د حضانت موضوع او نورو په اړه خبرې وشوې چې الحمدلله تر ډېره ورته رسېدنه وشوه.

د ناستې په دوام د بلخ ولایت د محاکمو اړوند قضائي او اداري کارکوونکو ته د محترم فاروقي صاحب تر هدایاتو وروسته د بلخ ولایت د محاکمو د دېوانونو رئیس صاحبانو په خپل وارسره د مربوطه دېوان د موضوعاتو په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز د ښاري محکمې رئیس محترم مولوي آدم خان «ابوجمیل» د دې محکمې د اړتیاوو اړوند خبرې وکړې او ناسته دعمومي رئیس لخوا په اختتامیه دعا سره پای ته ورسېده.

## جلسه اداری محکمه استیناف ولایت سمنگان دایر گردید

جلسه اداری محکمه استیناف ولایت سمنگان یوم سه شنبه مؤرخ ۱۴۴۵/۱/۱ هـ ق تحت ریاست مولوی محی الدین «عمری» رئیس محکمه استیناف با اشتراک رؤسای دواوین استیناف، کارمندان اداری، خدماتی و قطعه مفرزه محافظت قضات در دفتر کاری ریاست محکمه دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز شد سپس رئیس محکمه استیناف ضمن عرض خوش آمدید؛ تدویر جلسات اداری را مهم دانسته و عدم تدویر آنرا باعث افزونی بروز مشکلات در اجرای امور خلق الله گفت.

متعاقباً پیرامون موضوعات ذیل تاکید و توصیه های لازم را نمود:

۱ـ از اینکه جهت برپایی حکومت اسلامی تعداد زیاد مجاهدین و برادران ما و شما جان های شیرین خویش را در راه الله قربان کردند، جان فدائی آنها را نادیده نگرفته متوجه اعمال خویش در امور کاری خود باشیم و از خوردن حرام، واسطه شدن و یا پذیرفتن واسطه جداً بپرهیزیم و باطن و ظاهر خویش را آراسته با تقوی و سنت پیامبر گرامی صلی الله علیه وسلم بسازیم تا به شعار خود جامعه عمل بپوشانیم در غیر آن صورت الله متعال ذلیل و ناکام و بی عزت در همه امور زنده گی مان می سازد.

۲ـ تمام منسوبین قضائی، اداری، خدماتی و نظامی ملزم به ادای نماز جماعت اند در ادای نماز با جماعت هیچ بهانه پذیرفته نمی شود پیش از پیش آماده گی نماز را هر کدام تان داشته باشید.

۳ـ اخلاق و آداب نیک را با مراجعین داشته و به مشکلات آنها در اسرع وقت رسیدگی نمائید.

۴ـ هیچ یک از منسوبین محاکم در هنگام رسمیات بدون ضرورت خود را به کار های غیر رسمی مصروف ننمایند تا باعث کندی کار و انتظار مراجعین نگردد و یا باعث تلف شدن وقت و زمان خود که بزرگترین نعمت است که الله متعال در روز قیامت از وقت عمر جوانی انسان پرسان می نماید، بهتر است هنگام فراغت خویش را با مطالعه کتاب و مسایل مربوط به وظیفه و مسولیت که دارید سپری نمائید و جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## د غزني د مرافعه محکمې سرپرست د یاد ولایت له امنیتي مسؤولینو سره د همغږۍ غونډه ترسره کړه

پنجشنبه تاریخ ۱۴۴۵/۱/۳ هـ ق د غزني ولایت د مرافعه محکمې سرپرست رئیس مولوي محمد مبین الطاف د غزني ولایت د مرافعه محکمې په مقام کې د ټولو ولسوالیو له ولسوالانو، امنیه قوماندانانو، د غزني ولایت د امنیت له آمر او همدارنګه د حوزو له آمرینو سره د همغږۍ او همانګۍ غونډه وکړه.

د مرافعه محکمې سرپرست رئیس مولوي محمد مبین الطاف د محاکمو په اړه مفصله وینا وکړه او زیاته یې کړه، ستاسو د ټولو مسؤلینو دنده ده چې د محاکمو پرېکړې په عملي کولو کې او له هغوی څخه یې غوښتنه وکړه چې په دې برخه کې د تېر په څېر همکار و اوسې.

وروسته د امنیت آمر مولوي خادم صاحب د ټولو راغلو مسؤلینو په نماینده ګي خبرې وکړې او له خپله اړخه یې اطمینان ورکړ چې حتی الوسع به د محاکمو د پرېکړو په عملي کولو کې کوټلي ګامونه اخلي، وروسته ټولو راغلو مسؤلینو د ورته غونډو د دوام غوښتنه وکړه. غونډه د دعائیه په ویلو سره پای ته ورسېده.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ بدخشان با تعدادی از اعضای شورای علماء آن ولایت ملاقات نمود

به تاریخ ۱۴۴۵/۱/۵هـ ق محترم مولوی شمس الله «عزیزی» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان با تعدادی از اعضای شورای محترم علماء آن ولایت در دفتر کاری اش دیدار و ملاقات نمود.

در این ملاقات ابتداء ضمن اظهار خوش آمدید برای اعضاء محترم شورای علماء و تعارف رؤسا و قضات با اعضای شورای محترم علماء؛ رئیس محکمهٔ مرافعه به استقلالیت قضاء و مسؤولیت سنگین قضات صحبت مفصل نموده خواهان همکاری شورای علماء با محاکم شد .

سپس محترم مولوی سیف الرحمن به نمایندگی از شورای علماء راجع به ساختار و طرزالعمل شورای علماء، همکاری ارگان‌های امنیتی و کشفی با محاکم، تأمین امنیت قضات و محل مناسب برای پیشبرد امور کاری محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها اظهار نظر نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه در رابطه به این موضوعات گفت که پیرامون موارد ذکرشده اقدام لازم خواهد نمود.

همچنان رئیس محکمهٔ مرافعه راجع به لایحهٔ وظایف محاکم، دیوان های مرافعه، شهری بخصوص لایحه کاری محکمهٔ اختصاصی صحبت نمود و نیز در مورد علفچر ها وغیره موارد ضروری صحبت و تبادل نظر صورت گرفت و جلسه با دعائیه خیر و فلاح کشور خاتمه یافت.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳